# مهاجر قوم شو
# او
# قوم مهاجر شو

مختار علي ابازے

د الطاف حسېن د ډرکو نه چې وېرېدو نو رحمان ملک صېب ووئيل چې د فاټا نه کوم پښتانۀ کراچۍ ته راځي نو د دوي به کره کتنه کېږي چې ايا دوي کښې خو طالبان نۀ راځي. سوال دا پېدا کېږي چې رحمان ملک صېب سره کومه د جادو کونټۍ ده چې هغه به عام پښتون او طالب کښې فرق وکړي. ږيره او په سر پګړۍ يا ټوپۍ خو په سلو کښې د پنځۀ اتيا پښتنو وي، نو د دې نه دا مطلب اخستل پکار نۀ دي چې ګني دا ټول طالبان دي. د رحمان ملک صېب په ذهن کښې به دا خبره خو ضرور وي چې د پاکستان سرمايه داره، جاګيرداره، افسرشاهي او د وزيرانو طبقې د دې خبرې عادت شوي دے چې دوي کله هم د يورپ يا د امريکې په دوره ځي نو دوي د ښنو نه تر سره پورې لټوي ځنګه



چې زمونږ پوليس غل ډاکو لټوي. نو رحمان ملک صېب دې لږ سوچ وکړي چې پښتون غل يا ډاکو نۀ دے چې داسې دې ورسره وشي. د الطاف حسېن چغې سُورې د طالبانو په وجه نۀ دي، د دې شاته نورې ډېرې خبرې دي. الطاف ورور سره د خپلو ورونړو د معاشي مفاداتو فکر دے. په دې وجه هغه د پښتنو سره دښمني کوي او د دوي دا سوچ دے چې د کراچۍ ښار صرف او صرف د مهاجر قوم جاګير دے.

۱۹۶۸ء کښې په پوره نړۍ کښې د طالب علمانو يو تحريک چلېدلے ؤ، لندن، پېرس، روم، برلن او ميډرډ غرض دا چې هر لوئے ښار کښې د حکومتونو په ضد مظاهرې شوې وې. په دغه وخت کښې په پاکستان کښې هم طالب علمان د ايوب خان په ضد سړکونو ته راوتلي وو. د لندن د مظاهرو مشري يو مشهور طالب علم طارق علي کوله. دے دغه وخت د اکسفورډ يونيورسټۍ د يونين صدر هم ؤ.

يو انګرېز دا مطالبه وکړه چې طارق علي د ملک نه بهر وباسئ، ولې چې دے يو پاکستانے دے او د حکومت خلاف د مظاهرو مشري کوي. د دې جواب طارق علي ډېر په ښکلي انداز کښې

ورکړو، هغهٔ په يو مضمون کښې وليکل چې پېرنګيانو دوه سوه کالو پورې د برصغير پاک وهند مال او دولت لُوټلے دے او د دغې لوټلي شوي دولت په وجه نن برطانيه مالداره ده او زمونږ ملکونه غريبان شوي دي. اوس زمونږ حق جوړېږي چې مونږه دوه سوه کاله په برطانيه کښې پاتې شو او د دې د وسائلو نه ګټه واخلو.

نو الطاف ورور او د هغهٔ ملګرو ته عرض دا دے چې پښتانهٔ کراچۍ ته د سبل سپاټې او خوشحالۍ نمانځلو له نهٔ دي راغلي، ځکه چې د پښتنو د صوبې ټول وسائل خرڅ شوي دي، نو په دې وجه د پښتنو حق جوړېږي چې دوي دې دلته راشي او خپل روزګار، مزدوري او نوکري دې وکړي.

١٩٤٧ء نه د ورو صوبو مال او دولت د پاکستان واکدارانو خوړلے دے، په دې واکدارانو کښې پنجابيان او مهاجر په وړومبي سر کښې دي. د ١٩٧٨ء نه پس د امريکې په وېنا د افغانستان او د پښتنو زمکه په وينو سره شوه. امريکې د خپلو ګټو حاصلولو د پاره مجاهدينو له په دې زمکه محفوظې پناګانې ورکړې. نن هم د دغې مجاهدينو په عملياتو او د سيکيورټي فورسز په جوابي حملو کښې پښتون قام در په در دے او په خپله خاوره مهاجر دي. نن د کراچۍ مهاجر نه قام جوړ شو او پښتون قام مهاجر کړے شو. زمکه د چا؟ خاوره د چا؟ او ملکيت ئې د چا؟ لږ سوچ الطاف له پکار دے چې تهٔ د کوم ځائے نه راغلے او شتمن شوے ئې او پښتانهٔ شتمن وو او تش لاس پاتې شو.

خليجي ملکونو کښې کهٔ سکائي سکرېپر محلات دي او کهٔ بنګلي پراخه سړکونه يا د کراچۍ سړکونه او اوچت اوچت عمارتونه دا ټول د پښتنو د خولو نه جوړ دي. دا د تاريخ بدقسمتي ده چې پښتون خپل د جنت په شان وطن جوړولو په ځائے د دوه وخته روټۍ په تلاش کښې د وطن نه لرې په کلونوکلونو پراتهٔ وي.

د شروع نه دا د پښتنو بدقسمتي ده چې خپل وطن کښې ئې نهٔ ترقي او نهٔ امن نصيب شو. د پښتنو د پاره د ټولو نه لوئے مصيبت د دوي د وطن جغرافيه جوړه شوې ده. دا قام د ايشيا په زړهٔ کښې پروت دے. د مختلفو سلطنتونو د جنګ لاره کښې مېشته دي. په دې وجه د تاريخ په هره مرحله کښې هن، يونانيان، تاتاريان، مُغل، سکهان، انګرېزان او داسې د نورو طاقتورو قوتونو د اسونو د پښو لاندې رېزه رېزه شول. سامراجي طاقتونو هم پښتانهٔ د الوتکو، ټانکونو په ذريعه نېست و نابود کړل.

کهٔ پخوانے او لرې د مخکښې زمانې تاريخ وګورو نو د برطانيې سامراج په افغانستان درې حملې وکړې، د افغانستان وړومبي، دوېم او درېم جنګ د پښتون زمکه داسې وډبوله ځنګه چې په ډانډس مالوچ ډبېږي او د وينو بارانونه ئې پرې وکړل.

د زار روس او تاج برطانيه په مېنځ کښې د بفر زون په حېث دا زمکه سينډوچ جوړه کړې شوه. د برطانيې سامراج د تلو نه پس پښتانهٔ ئې افغانستان او پاکستان کښې تقسيم کړل، پاکستان کښې بيا دا بدقسمته قام په ځلورو يعنې، بلوچستان، فاټا، پاټا او صوبه سرحد کښې تقسيم کړے شول.

په دنیا کښې چې کله نه قامي ملکونه په وجود کښې راغلي دي نو پښتون قام پکښې واحد قام دے چې د زرګونو کلونو نه قائم جغرافیائي وحدت ئې په پنځو حصو کښې تار تار کړو. افغانستان ته چې کله سویت یونین داخل شو نو د ۷۰ او د ۸۰ په لسیزه کښې عالمي سامراجي طاقتونه د امریکې په مشرۍ کښې راغونډ شول او د پښتنو دا د جنت ټکړه ئې د مذهبي بنیاد پرستو یو جهادي مرکز کښې بدل کړو او د ټولې اسلامي نړۍ نه ئې مجاهدین دلته راوستل او بل طرف ته ئې ۳۰ لکه پښتانهٔ په هجرت مجبور کړل او پاکستان کښې ئې د پښتنو په زمکه اباد کړل چې دې سره لړه ډېره ترقي هم په ځائے ودرېده او د ترقۍ په ځائے ئې کلاشنکوف، هیروئن او د جهادي ثقافت ابتدا وشوه.

۹/۱۱ په واقعه کښې یو پښتون هم شامل نهٔ ؤ خو بیا هم ټوله غوره په پښتنو پرېوته. د دې نه پس چې پښتنو سره څهٔ وشول د هغې یادګېرنه ضروري نهٔ ده.

د مصیبتونو دا سلسله جاري ده او عجیبه خبره دا ده چې امریکې په افغانستان حمله وکړه او د طالبانو حکومت ئې ختم کړو. افغان طالبانو د امریکې په ضد جنګ کولو او د هغې جنګ جواز هم موجود ؤ خو ۲۰۰۷ء نه پس دا جنګ پاکستان ته راغے او په مزه مزه دا جنګ د امریکې په ځائے د پاکستان پښتنو سیمو ته راغے او دغه شان دا جنګ د بلوچستان د پښتنو سیمو نه جنوبي وزیرستان، شمالي وزیرستان، باجوړ، مومند، خیبر، سوات او داسې ټول پښتون بېلټ کښې خور شو. د پښتنوخوا ګُټ ګُټ ته ورسېدو او ټول پښتانهٔ ترې متاثره شول.

د پښتنو زمکه زیاته د تباهۍ، تشدد، محرومۍ او مسائلو ښکار شوه.

اوس خو د پوځي اپرېشن له کبله نن ورځې پورې ۳۰ لکه نه زیات خلق بې سرو سامانه په خپله خاوره مهاجر شول.

دا د پښتنو غلطي نهٔ وه چې دوي د برطانیې او روس په مېنځ کښې سینډوچ جوړ شول. افغانستان ته د روس په راتلو کښې د صوبه پښتونخوا د پښتنو څهٔ سازش نهٔ ؤ، امریکې چې څنګه د ټولې دنیا نه جهادیان برتي کړل او دلته ئې راوستل او کله چې روس د افغانستان نه واپس شو نو د دې جهادیانو د پښتنو په خاورې کښې د پاتې کېدو هم د پښتنو څهٔ سازش شامل نهٔ ؤ. کله چې د امریکې په وینا په افغانستان کښې د طالبانو د تحریک بنیاد کېښودل شو نو په دې کښې هم د پښتنو څهٔ ګناه او قصور نهٔ ؤ شامل.

اوس د دغې ټولو ناشوو ګناهونو سزا صرف پښتون قام ته رسېږي.

اصل خبره دا ده چې ټولې پالیسۍ د دې ملک مهاجر او پنجابي حکمرانانو جوړې کړې وې.

د پاکستان د ټولو نه اهمې عهدې د الطاف حسېن د ورونو په لاس کښې پاتې شوې دي. ضیاء الحق د پښتنو زمکه د امریکې مفاداتو دپاره د جهاد په نوم او جنرل مشرف دا زمکه د ترهګرۍ په ضد د جنګ په نوم د امریکې په حکم استعمال کړه. دا دواړه حکمرانان د الطاف حسېن ډېر نزدې او خوارهٔ مشران او ملګري وو. په دې وجه الطاف حسېن رحمان ملک او د حکومت نور ممبران دې ځان پوهه کړي چې د پښتنې زمکې د تباه کولو او بربادولو کوشش کښې هم د دوي لاس دے.

ترڅو پورې چې د پښتنو په وطن کښې امن نۀ وي راغلے، تر څو پورې چې د پښتنو په خپلو وسائلو او دولت اختيار نۀ وي راغلے، تر څو پورې چې د پښتنو په وطن کښې بنيادي حقونه حاصل نۀ وي، دا پښتانۀ چې په پاکستان کښې کوم ځائے ته غواړي روزي ګټلو دپاره به ځي. په دې وجه الطاف او د هغۀ ملګري دې په سړه سينه په دې غور وکړي چې دا مظلوم او بې کوره قام دې نور نۀ بې عزته کوي. هسې نۀ چې د دوي د صبر پيمانه ډکه شي ولې چې ټولې نړۍ د دوي وطن لوټلے او برباد کړے دے. اوس د ټولې نړۍ د ذمه وارانو دا فرض جوړيږي چې د پښتنو د وطن امن او سکون بحال کړي. ماخوذ